صداهای زنان برای صلح همه‌شمول و پایدار
د ټول‌شموله او تلپاتي سولې لپاره د ښځو غږونه
Women's Voices for an Inclusive and Sustainable Peace

د ښځو د سولې لنډیز
د ښځود سیاسي مشارکت په اړه د افغان ښځو نظرونه

د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر میاشتې خپرونه

لنډیز:


- د هرات، ننګرهار، بلخ، هلمند، تخار، بامیان، کندهار، دایکندي، پنجشیر، جوزجان، فراه، فاریاب، بادغیس، بغلان، کنړ او پکتیا په ولایتونو کې له ۲۶۷۵ ښځو څخه د ښځو د سپاسي ګډون او ملاتړ بابا اعاده کولو په اړه وپوښتل او ګډونوالو ښځو یې په اړه بېلابېل نظریات وړاندې کړل.


- د سروې ډېری ګډونوالو، شاوخوا (۴۷٪) ، وویل چې د حکومت په ټولو کچو کې باید د ښځو سیاسي ګډون شتون ولري او د ښځو چارو وزارت باید بیرته جوړ شي.(۳۴٪) په دې باور وې چې د وزارت بیارغونه د نورو انتخابونو په پرتله غوره لاره ده. پاتې ګډونوال په دې نظر وو چې آیا ښځې باید په سیاسي توګه په ملي سیاست تمرکز وکړي یا د کلي/ولسوالۍ د جرګو په کچه.

- د ځواب ویونکو لوی اکثریت شاوخوا (۵۷٪) په دې باور وو چې ملګري ملتونه د ښځو او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو د اسانتیا لپاره ترټولو غوره لوبغاړی دی، پداسې حال کې چې د ځواب ویونکو یو شمیرچې تعداد ېې لږ وو، اسلامي هیوادونو (۱۶٪)، علماو(۱۵٪) یا قومي مشرانو (۱۲٪) ته لومړیتوب ورکولو.


- په دې اړه چې د ښځو د سپاسي ګډون لپاره ترټولو غوره ملاتړ به څه شی وي، ښځې ګډونوالې سره ووېشل شوې ، شاوخوا(۳۰٪) ویلي چې دوی به له طالبانو سره د مستقیم خبرو اترو لپاره خوندي ځای ته اړتیا ولري او(۳۰٪) نورو ویلي چې دوی به ټولو محدودیتونو لرې کولو ته اړتیا ولري. د ښځو چارو د وزارت جوړول په سلو کې شل تر ټولو غوره انتخاب وو.

- شاوخوا(۶۱٪) ځواب ویونکو د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي مخنیوي لپاره یو نه بلکې ټول وړاندیز شوي اختیارونه غوښتل، په شمول د ځانګړې محکمو، په قضآ کې د ښځوشتون، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون بابا نافذول، او د روغتیایي، رواني او حقوقي مرکزونو د ملاتړ غوښتنه وکړه.






درېمه پوښتنه: کوم لوبغاړی د ښځو او تالبانو تر منځ د خبرو اترو د آسانتیا برابرولو لپاره غوره دی؟



څلورمه پوښتنه: د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي په مقابل کې د غبرګون او مخنیوي لپاره څه باید وشي؟



روش:

واوره یو ډیجیټلي نوښت دی چې د افغانستان په ۱۷ ولایتونو کې فعالیت کوي. دا پروژه د ډیجیټل ټولپوښتنو وسیلې او ټولنیز بنسټ چلند سره یوځای کوي ترڅو په 'ریښتیني وخت' کې په سیمه ایزه کچه د افغانستان د ښځو تجربې او نظرونه ترلاسه کړي. دا روش/طریقه د افغانستان شرایط په پام کې نیسي او د دې لپاره ډیزاین شوی چې په افغانستان کې د دودیزو خیرنو په پرتله، ښځې له بېلابېلو برخو څخه په خیرنه کې برخه واخلي. هغه ښځې چې نشي کولی سفر وکړي یا د تګ راتګ له محدودیتونو سره مخ وي، د ټولنې د نظرباتو له پروسې څخه پاتې کیږي. د پایلې په توګه، د دوی تجربې اکثرا د پالیسۍ په بحثونو کې په پام کې نه نیول کیږي. واوره درې خیرنیزې وسیلې کاروي: د ټیلی ټولپوښتنې سیستم، مخامخ لنډې ټولپوښتنې او د متمرکز بحث ګروپونه. د واوره ډیجیټل خیرنې وسیلې د زیاتمنو او له له پروسې څخه لرې ښځو برخه اخیستنې د اسانه کولو لپاره رامینځته شوې او د ښځو غږونه د پالیسۍ جوړولو پروسو ته رسوي. د راټولو شویو معلوماتو څخه موندنې، په وخت، سیستماتیکې او معیاري ډول رسمي شریکانو او عامو خلکو ته د دې لپاره چمتو کیږي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د میرمنو نظرونه وکولای شي په نړیوالو پالیسیو او پریکړو کې په پام کې ونیول شي.

د واوره په اړه:

په ۲۰۲۰ کې د پالیسۍ خیرنې او پراختیایي مطالعاتو بنسټ لخوا په افغانستان کې رامینځته شوی، واوره/بشنو یو ډیجیټل جوړښت دی چې په ریښتیني وخت کې او د بېلابېلو مسئلو په اړه د ښځو نظرات راټولوي. لکه څنګه چې له نوم څخه یې ښکاري، واوره په پښتو کې 'اوریدل' ته وایي، او له دې موخې سره رامینځته شوی چې ډاډ ترلاسه کړي چې د افغان ښځو د "اوریدلو" پروسې ته د یو اړخیزې پېښې په توګه نه بلکه په افغانستان کې د سولې، امنیت او پرمختګ په اړه د ټولو ملي او نړیوالو بحثونو د بشپړې او پرلپسې برخې په توګه وکتل شي.